# د نیا کیسي

| | |
|---|---|
| توضيحات: | زده کوونکي به خپل کلتوري او ولسي کیسو ته غوږ ونیسي، بیا به همدغه کیسي له نویو (عصري) تغیراتو سره په خپلو انځوریزو کتابونو کي ځای پر ځای کړي. |
| مخکښنه پوښتنه: | څنګه کولی شو  ولسي کیسي (فولکلور) د بیاځل لپاره ولیکو؟ |
| د عمر ګروپ | له ۴ څخه تر ۵ کلن |
| مضامین | سواد |
| د اړتیا وړ لوازم: | په ۵ ورځو کي ۵ ساعته |
| خپل لاربښود / څارل شوی فعالیت: | تر نظارت (څارنې) لاندي |
| د اړتیا وړ سرچیني: | ورقه، پنسل، قلم، رنګونه، او سریش<br>اضافي: جامي، وسایل او مجلي |
| د زده کړي پایلي: | 1. د کیسي لیکلو مختلف اړخونه لکه کرکټرونه، صحني، پلاټ، د کیسي پیل، منځ او پای په اړه پوهیدل.<br>2. د کیسي د اوریدلو، درک کولو، بیا ویلو او بیا تصور کولو د مهارتونو تمرین .<br>3. د کیسي نقشي درک کول او رسمول. |

education above all
التعليم فوق الجميع

## لمړی ورځ

| وقت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |
| ۱۵ دقیقي<br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br>۱۵ دقیقه<br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br>۵ دقیقي | موږ به ورځ له یوې لوبې سره پیل کړو چې د ټیلیفون لوبې په نامه یادیږي.<br><br>د تلیفون لوبه:<br><br>- زده کوونکي په یوه دایره یا کرښه کې کښېنوئ.<br><br>- یو زده کونکی لوبه د یوې کلمې یا جملې په فکر کولو سره پیل کوي او د بل زده کونکي غوږ ته یې رسوي (یا تاسو کولی شئ دوی ته د پیل کرښه ورکړئ، د بیلګې په توګه، توري پیشکي کوچنی خړ موږک پسې منډې وهلې).<br><br>- بیا هغه زده کوونکی باید دا جمله بل زده کونکي ته له نویو اضافه شویو خبرو سره د هغه په غوږ کې ووایي.<br><br>- فعالیت ته دوام ورکړئ، بیا له وروستي زده کونکي څخه وغواړئ چې هغه کیسه چې اوریدلې یې د ټولو سره شریکه کړي.<br><br>- د زده کونکو سره ددې په اړه چې کیسه څنګه له یوه زده کونکي څخه بل زده کونکي ته ویل شوې بحث وکړئ.<br><br>**بحث:**<br><br>- آیا کیسې مو خوښیږي؟<br><br>- څوک معمولا ستاسو په کور کې تاسو ته کیسې کوي؟<br><br>- کوم ډول کیسې مو ډېرې خوښیږي؟<br><br>نن به تاسو د ولسي (فولکلوریکي) کسیو سره آشنا شئ. |

| | |
|---|---|
| ۱۵ دقيقې | - فولکلوريکي کيسې هغه کيسې دي چې د نسلونو په اوږدو کې په وار وار ويل شوې دي.<br><br>ډېرې دا کيسې د ليکلو پر ځای په شفاهي ډول تر موږه رارسيدلي دي. کيسې ويونکو دا کيسې په ياد کړي او له يوه نسل څخه بل نسل ته يې انتقال کړي دي. لکه څرنګه چې مو وويل چې دا کيسې نه دي ليکل شوي، له همدې کبله ځيني وختونه په دې کسو کې ساده بدلونونه شتون لري (لکه په هغه لوبه کې چې موږ په دې وروستيو کې ترسره کړه).<br><br>- د خپلې خوښې فولکلوريکي يا ولسي کيسط په اړه فکر وکړئ (يا تسهيل کوونکی کولی شي د يوې مشهورې فولکلوريکي کيسط بيلګه زده کوونکو ته ووايي.):<br>الف دا ولسي کيسه بيا په خپله ژبه د دوهم ځل لپاره ووايئ.<br>ب. د خپلو ټولګيوالو سره ددې په اړه خبرې وکړئ چې ولې دا ستاسو د خوښې فولکلوريکي کسيه ده،او تاسو د هغې په اړه څه خوښوی.<br>- آيا دا ولسي کيسه لاندې نقطې لري:<br>الف په افسانو کې د ځينو مهمو کرکټرونو په توګه د ځاروپو خبرې کول؟<br>ب. ايا د کرکټرونو نومونه تاسو ته د دوی د شخصيت په اړه وايي، د بيلګې په توګه لوی، بد، کوچنی؟<br>ج. ايا دا کليوالي يا ځنګلي چاپيريال لري؟<br>د. ايا په ټوله کيسه کې  تکرار شوي جمله يا عبارت شتون لري؟<br>ه. ايا د کيسې په پای کې کوم زده شوي درسونه شتون لري؟<br>ی. ايا دا د اصلي کرکټرونو لپاره خوشحاله پای لري؟<br>- دا د فولکلوريکي کيسو ځانګړتياوې دي. ډېری فولکلوري کيسې ځيني يا ټولې يادې ځانګړتياوې لري، لکه د حيواني کرکټرونو خبرې کول، د اصلي کرکټر لپاره خوشحاله پای، او زده شوي درسونه.<br>- په ضميمه کې د فولکلوريکي کيسو دوه مثالونه کولی شئ پيدا کړئ: شپون هلک او ليوه، وزه او د هغې درې بچيان. دا کيسه واورئ او که تاسو مخکې کيسه اوريدلې وي، خپلو ټولګيوالو ته ووايست چې ستاسو د خوښې کرکټر څوک دی او ولې.<br>- 2 ضميمه: دا د فولکلوريکي کيسو د ځينو عامو اړخونو معنی او لنډ يادښتونه لري. |
| ۲۵ دقيقې | **پيل، منځ، پای**<br>-له زده کونکو سره يوه فولکلوري کيسه يا هغه کيسه چې تاسو په ټولګي کې لوستلې وي  شريکه کړئ. له يو چا څخه وغواړئ چې هماغه کيسه په لنډ ډول تکرار کړي.<br>- زده کوونکو ته ووايست چې فولکلوريکي کيسې لکه د نوروکيسو په شان پيل، منځ او پای لري. ټولګي ته هغه څه تکرار کړئ چې د کيسې په پيل، منځنی برخه او په پای کې پيښ شوي دي.<br>- زده کوونکو ته ووايست چې په کتاب کې د يادې شوې کيسې لنديز د خپلو الفاظو په کارولو سره ووايي. دې عمل ته تکرار يا ګردان ويل کيږي.<br>- زده کوونکو ته د بيا ځل لپاره  ووايست چې کيسې پيل، منځ او پای لري. د کيسې پيل د کيسې په پيل کې، د کيسې منځنی برخه د کيسې په منځ کې او پای يې په آخر کې پيښيږي.<br>- له زده کونکو څخه وغواړئ چې  د دوی د خپلو لوستلو د وړتيا سره سم يو کتاب راوړي (دا کتاب ممکن پرته له الفاظو څخه وي). زده کوونکو ته يو څو دقيقې وخت ورکړئ چې کتاب مطالعه کړي، بيا له هغوی څخه وغواړئ چې خپلو ټولګيوالو ته ورشي او له هغوي سره هغه څه شريک کړئ چې په کيسه کې پيښ شوي وي.<br>- زده کونکو ته لارښوونه وکړئ چې د لاندې جملې چوکاټ وکاروي: "دا کيسه د ______ په اړه ده." |

زده کونکو ته وواياست چي دوی باید د کتاب په پیل، منځني او پای کي هغه څه رسم کړي چي د کتاب په اړه د دوی نظریات، فکرونه یا احساسات روښانه کوي. دوی کولی شي د امکان په صورت کي نوري کلمي هم اضافه کړي.




- د زده کوونکو له ګروپونو څخه وغواړئ چي هغه څه چي دوی ترسره کړي له يو بل سره یې شریک کړي. له هغوی څخه وغواړئ چي د خپل کتاب په هره برخه کي له یو بل سره بحث او خبري اتري وکړي. همدا راز، له زده کونکو څخه وغواړئ چي د جملي لاندې چوکاټونه وکاروي: - په لومړي سر کي ______. په منځ کي ______ په پای کي ______.

په کور کي:

- هغه کیسه چي نن مو اوریدلي د خپلي کورنۍ غړو یا ملګرو ته وواياست. - کله چي کیسه هغوئ ته تکرار کوئ، د مختلفو غړونو څخه وکړئ ترڅو د مختلفو کرکټرونو سره ستاسو غږ سمون ومومي.

- د خپلي کورنۍ له غړو څخه وغواړئ چي تاسو ته د دوی د خوښي فولکلوریکي کیسي ووايي. ځيني پوښتني چي تاسو کولی شئ د خپلي کورنۍ له غړو څخه وپوښتئ په لاندې ډول دي:

➔ کله چي ته زما په عمر وې، آیا ستاسو مور او پلار او یا نیا او نیکه تاته کومه داسي کیسه ویلي ده چي هیڅکله به مو هېره نه شي؟

➔ په ماشومتوب کي تاسو د کومي کیسي له لوستلو یا اوریدلو څخه ډیر خوند اخیسته؟

## دوهمه ورځ:

| وخت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |

| | |
|---|---|
| ۵ دقیقې<br><br><br><br><br>۱۰ دقیقې | - زده کونکي د یوې فولکلوري او یا هم کوم بلې کیسې  په شریکولو سره پیل کوي. ممکن دا کیسه ددوی مور او پلار یا نیکه د دوی د کورنۍ غړو ته ویلي وي.<br>لکه د هرې بلې کیسې په څیر، یوه فولکلوریکي یا ولسي کیسه درې مهم عناصر لري:<br><br>1. ترتیب: دا د کیسې موقعیت یا ځای او وخت په اړه معلومات ورکوي. مور له زده کونکو څخه پوښتنه کوو، "دا کیسه چیرته او کله رامنځ ته شوې؟"<br>2. کرکټر: کرکټرونه په کیسه کې خلک، حیوانات یا مخلوقات دي. دوی د کیسې پلاټ مخ په وړاندې بیایي. مور له هغوی څخه پوښتنه کوو: "دا کیسه د چا په اړه ده؟" |
| ۱۵ دقیقې | 3. پلاټ: پلاټ په کیسه کې د پیښو ټولګه ده. په دې عمر کې مور کولی شو د کیسې پیل، منځ او پای هم وپیژنو. مور له زده کوونکو څخه پوښتنه کوو، "په دې کیسه کې څه پیښیږي؟"<br><br>● اسانګر یوه کیسه لولي او د لوستلو په وخت کې د کیسې عناصر په کیسه کې ځای پر ځای کوي.<br>● تسهیل کونکی کولی شي د کیسې د ویلو په جریان کې وقفه وکړي ترڅو دا واضح شي چې په کیسه کې څوک دی او کیسه چیرې پیښیږي. له زده کونکو څخه وغواړئ چې کرکټرونو او ترتیباتو ته غوږ ونیسي. څو پاڼې ولولئ، بیا ودریږئ او پوښتنه وکړئ:<br>➔ کرکټرونه څوک دي؟<br>➔ ترتیبات څه دي؟<br>● کله چې زده کوونکي له کومک پرته ځواب ورکړي، تاسو کولی شئ د کیسې مفهوم معرفي کړئ. د څو پاڼو له لوستلو وروسته، ودریږئ او پوښتنه وکړئ چې څه پیښیږي:<br>➔ لومړی؟<br>➔ راتلونکی؟<br>➔ بیا؟<br>➔ په پای کې؟ |

۳۰ دقیقې

**د کیسي نقشه**

- د هغي کیسي لپاره چي تاسو پرې پوهیږي او یا هم هغه کیسه چي تاسو پرون واوریده یو د کیسي نقشه جوړه کړئ.
- د کیسي نقشه یو ګرافیک تنظیم کوونکی دی چي موږ سره مرسته کوي ترڅو د کیسي توضیحات په کره ډول سره زده کړو.
- لاندې تاسو کولی شئ د "ګولډیلاکس او درې خرسان"د کیسي د نقشي مثال وګورئ. ایا تاسو کولی شئ د هغي کیسي لپاره چي پرون مو واوریدله یوه د کیسي نقشه جوړه کړئ؟
- د کیسي یوه داسي نقشه رسم کړئ چي د کیسي سرلیک، کرکټرونه، ترتیب، پیل، منځنی برخه او پای پکي شامل وي.




- د اصلي کرکټرونو احساسات بیان کړئ. ایا دوی خوشحاله، غمجن یا ناراض او ورته نور شخصیت لري؟
- د کرکټرونو د احساساتو په اړه فکر وکړئ او د کیسي په جریان کي د دوی احساسات څنګه بدلون مومي. د دوی د احساس لامل څه و او دا احساس څه شی بدل کړ؟
- یو د حالت اندازه کوونکی جوړ کړئ (د اصلي کرکټر انځور د هغه د ټولو احساساتو سره) رسم کړئ او په عملي توګه یي وښایاست او یا د ترتیب په توګه یي ولیکئ.



| | |
|---|---|
| ● د مختلفو کرکټرونو د احساساتو پیژندلو په اړه پخوانی تمرین وکاروئ ترڅو خپل شفاهي داستان ډراماتیک کړئ.<br>● کله چې تاسو د مختلفو کرکټرونو داستان ترسره کوئ، خپل غږ بدل کړئ.<br>● څنګه کولای شو چې د غمجن کرکټر په غږ کې څه ووایو؟ دوی کولی شي په ارامه غږ خبرې وکړي. یو قهرجن کرکټر به شاید په لوړ غږ خبرې وکړي. دوی ممکن لاهم ځینې کلمې پریږدي او په چټکی سره خبرې وکړي. | |

**دریمه ورځ:**

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | - اوس چې تاسو پوهیږئ چې فولکلوریکي کیسه څه ده او د هغې له عناصرو سره آشنا یاست، تاسو د یوې عصري فولکلوري کیسې د جوړولو لپاره یو کلاسیک فولکلوریکي کیسه بیا لیکئ.<br>- زده کوونکي د کرکټرونو په بدلولو او بیا د چاپېریال او پلاټ په بدلولو پیل کوي او بیا یې کیسه انځوروي او په شفاهي ډول یې بیانوي.<br>● نن ورځ، د کرکټر زده کونکي به د خپلې خوښې یوه فولکلوري کیسه وپلټي ترڅو خپل کرکټر جوړ کړي.<br>● لومړی، زده کوونکي  فولکلوریکي کیسې بیانوي او اصلي کرکټرونه څرګند کوي.<br>● بیا زده کوونکي د بیلابیلو فولکلوري کرکټرونو پر بنسټ خپل کرکټرونه جوړوي. له زده کونکو څخه وغواړئ چې د خپلو کرکټرونو د جوړولو په وخت کې د لاندې نقطو په اړه فکر وکړي:<br>- ستا د کرکټر نوم څه دی؟ دا نوم دې ولې انتخاب کړی؟<br>- ستا کراکټر څه ډول دی؟ هغه څه اغوستي دي؟<br>- ایا ستاسو کرکټر خبرې کوي یا غږونه وباسي؟ ایا تاسو کولی شئ د هغه د خبرو کولو طریقه یا د هغه د غږونو تقلید وکړئ؟<br>- ستاسو کرکټر د خارویو په اړه څه خوښوي او څه نه خوښوي؟<br>- ایا ستاسو کرکټر شوق لري؟ دوی څه کوي؟<br>- ستا کرکټر چیرته اوسیږي؟ |

| | |
|---|---|
| | آیا ستاسو کراکټر کورنۍ لري؟ |
| ۱۰ دقیقې | زده کوونکي د خپلو کراکترونو په اړه په شفاهي ډول توضیحات ورکوي. |
| ۲۰ دقیقې | خپل کرکټر رسم کړئ |

| | |
|---|---|
| | - اوس چې تاسو د دې په اړه نظر لرئ چې ستاسو کرکټر به څه ډول ښکاري، د دې وخت رارسیدلی چې همدغه کرکټر رسم کړئ.<br><br>- ستا کرکټر څه ډول ښکاري؟ د هغوي د جامو په اړه چې اغوندې یې فکر وکړئ (یا که دا یو حیوان وي، شاید وېښتان، وړې او یا هم ښکې ولري). همدا راز د دوی د بدن حرکت د دوی د کرکټر په اړه څه وايي؟<br><br>- تاسو کولی شئ د دوی شاوخوا نړۍ هم په خپل رسم کې ترسیم کړئ: ایا دوی په ښار کې ژوند کوي ، په باراني ځنګل کې ، یا د څاه په ښکته برخه کې او که دوی په سپوږمۍ کې ژوند کوي؟ |
| ۱۰ دقیدقي | **خپل کرکټر شریک کړئ**<br><br>- زده کوونکي هغه کرکټرونه چې رسم کړي یې دي له نورو زده کوونکو سره شریک کوي او د هغوی په اړه د نورو معلوماتو په ورکولو سره خپل کرکټرونو ټولو زده کوونکو ته معرفي کوي. |

education above all
التعليم فوق الجميع

<u>ځلورمه ورځ:</u>

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقي<br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br><br>۲۰ دقیقه | **یو انځور رسم کړئ او کیسه ووایاست**<br>- اوس تاسو خپل کرکټر لرئ او د دې وخت دی چې د دې کرکټر په اړه په مختلف انداز کې فکر وکړئ او په دې اړه فکر وکړئ چې دا تغیر څنګه کولی شي د کیسي یوه برخه یا د پیښو ټول ترتیب بدل کړي.<br>زده کونکي دې د لاندې شیانو په اړه فکر وکړي:<br>● که دې کرکټر زموږ په وخت کې ژوند کولای، نو څه به شوي وای؟ شیانو به څنګه توپیر درلودلی؟ کومو شیانو به تغیر درلودلی؟<br>● کچیرته تاسو د دې دورې اصلي کرکټر وای نو څه به مو کړي وای: تاسو به دې حالتونو او نورو کرکټرونو ته څنګه عکس العمل ښودلی وای؟ تاسو به د ځینو پیښو په اړه څه ډول غبرګون کړی وای؟<br>● ایا تاسو به ددې کیسي پای ته بدلون ورکړی وای؟<br>● زده کوونکي یو انځور یا څو انځورونه رسموي ترڅو خپل فکرونه په کاغذ کې را څرګند کړي.<br>له زده کوونکو څخه وغواړئ چې خپل انځورونه تاسو ته وړاندې کړي. د انځورونو د وړاندې کولو پر مهال، تاسو له هغوی څخه پوښتني وکړئ، د دوی په عکسونو کې توضیحات په ګوته کړئ او دوی وهڅوئ چې تاسو ته د دوی د عکسونو په اړه نور معلومات درکړي. ځینې پوښتنې چې تاسو کولی شئ له زده کونکو څخه وپوښتئ په لاندې ډول دي:<br>● کرکټرونو ته اشاره وکړئ<br>● ددغو کرکټرونو نومونه څه دي؟<br>● دوی څه ډول دي؟<br>● د هغوي په اړه ماته مالومات راکړئ.<br>● ترتیباتو ته اشاره وکړئ<br>● دا کرکټر چیرته دی؟ یا د کرکټر نوم اوس چیرته دی؟ |
| | ● هغه ځای څرنګ دی؟<br>● د "پلان" په اړه له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ.<br>● اوس مهال کرکټر څه کوي؟ ولې؟ تاسو څه فکر کوئ چې راتلونکی به څه وي؟<br><br>- زده کوونکو ته اجازه ورکړئ چې خبري اترې بیان کړي او هغه څه ته ځواب ورکړي چې دوی یې وایي. د هغوی د ځوابونو پر بنسټ پوښتنې وکړئ. لکه څنګه چې دوی د خپلو انځورونو په اړه خبرې کوي، دوی یوه کیسه بیانوي او تاسو ته د اصلي کرکټرونو، ترتیب او پلاټ په اړه معلومات تشریح کوي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ دقیقې | - | ټوله کیسه په کتاب کې رسم کړئ - ټول هغه انځورونه وکاروئ چې تاسو دمخه جوړ کړي او په کتاب کې یې ونخلوئ. تاسو یو لړ اختیارونه لرئ چې ځینې یې په لاندې ډول دي:<br>- د هغه انځورونو څخه چې تاسو رسم کړي یو انځوریز یا بې لفظه کتاب جوړ کړئ (تاسو کلی شي د نورو انځورونو لپاره د بل کتاب څخه عکسونه واخلئ لکه د مجلو / ورځپاڼو یا د هغه انځورونو څخه کار واخلئ چې تاسو دمخه جوړ کړي دي)<br>- د اضافي عکسونو او د کرکټرونو د غږونو په ګډون د ګرافیک یا یو انځوریز کتاب جوړ کړئ. |

## ۵ ورځ

| وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | - د خپل کتاب د پوښ مخ او شاته پاڼه ډیزاین کړئ. یو څو کتابونه ولولئ او وګورئ چې معمولا د کتاب په مخکینی او شاته مخونو کې څه وي. د پوښ پاڼه به یو عکس، سرلیک، لیکوال، ژباړونکی او انځورګر ولري. شاته مخ به د کیسې لنډیز ولري. |
| ۲۰ دقیقې | - خپلې کورنۍ یا ملګرو ته بلنه ورکړئ چې ستاسو کیسې ته چې تاسو یې هغوی ته وړاندې کوی وګوري.<br><br>- کورنۍ/ملګري کولی شي په کیسه بیاکتنه یا تبصره وکړي. همدا راز هغوی کولی شي ووایي چې ستاسو انځورشوي رسمونه او کرکټرونه یې خوښ شول او کنه. |
| ۲۰ دقیقې | ستاسو د کیسې په اړه د لیدونکو نظرونه راټول کړئ:<br>● آیا خلکو له دې څخه خوند واخیست؟<br>● کوم دوه شیان دي چې ښه روان دي؟<br>● څه شی نور هم ښه کولی شي؟<br>د خپلې تجربې په اړه دوه شیان منعکس کړئ او بیا یې شریک کړئ. |
| | |

| | |
|---|---|
| د لا غني کولو لپاره اضافي فعالیتونه | په خپله کورنۍ او ټولنه کې د فولکلوریکي کیسو، سندرو، او نورو شفاهي تاریخونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو زده کولو ته دوام ورکړئ. |
| د آسانتیا لپاره تغیرات | |

## <u>شپونکی هلک او لیوه</u>

یو شپون هلک د خپل بادار پسونه له کلي څخه لرې یوه تیاره ځنګل ته نیږدې څرول.په څرځای کې ورته ژوند ډېر ستړی کوونکی شو. د خپل تفریح او ساتیرۍ لپاره هغه یواځې کولی شو چې له خپل سپي سره خبرې وکړي او یا هم له خپل د شپون پایپ (ډانګې) سره لوبې وکړي.

یوه ورځ، کله چې هغه په خاموشۍ سره پسونو ته په ځنګل کې ناست و، په دې فکر کې ولاړ که چیرته لیوه د هغه په رمې حمله وکړي نو دا باید څه وکړي ترڅو خپله رمه له لیوانو څخه وژغورې. هغه د خپل ځان د تفریح او ساتیرۍ لپاره یو پلان جوړ کړ.

بادار یې ورته ویلي وو چې که لیوه په رمه برید وکړي نو د مرستې لپاره باید شپون کلیوالو ته غږ وکړي او کلیوال به حتما لیوه له منځه یوسي او رمه به وژغورې. نو اوس، که څه هم هغه د لیوه په څیر هیڅ نه و لیدلی، هغه د کلي په لور منډه کړه او په لوړ غږ یې وویل: "لیوه!

لکه څنګه چې هغه تمه درلوده، کلیوالو د شپون هلک غږ په اورېدو سره، خپل کارونه پرېښودل او په چټکۍ سره څرځای ته ورغلل. خو کله چې هغوی هلته ورسیدل، هغوی ولیدل چې هلک د هغه چل په اړه چې کلیوالو ته یې ورکړی و په زور زور خندل.

څو ورځې وروسته شپون هلک بیا چیغې ووهلې، لیوه! لیوه! لیوه!
یو ځل بیا کلیوال د هغه مرستې ته ورغلل، خو دغه هلک بیا دوی ته چل ورکړی وه او هغوي پورې یې خندل.

یو ماښام، د لمر پریواته په مهال چې لمر د ځنګله شاته د پریوتو په حال کې وه او څرځای په تیاره کې پټ شوی وه، یو ریښتینی لیوه د ځنګله څخه راووت او په پسونو یې برید وکړ.

هلک چې ډېر ډار شوی وه په ډیره ویره یې کلي ته منډه کړه او چیغې یې کړې: "لیوه! لیوه! لیوه! خو کلیوالو چې یې چیغې واورېدې، د پخوا په څېر یې مرستې ته لا نه ړل، هغوې وویل: هغه بیا موږ نه شي غولولی."

لیوه د هلک ډیری پسونه ووژل او بیا ځنګل ته ولاړ.

*درواغجن که رښتیا هم ووایې، څوک پرې باور نه کوي.*

## <u>***یوه وزه او درې بچیانی یې***</u>

یوه وزه له خپلو دریو ماشومانو سره وسیدله. تر ټولو کوچنی بچی یې ډېر کاریګر وه او تل به یې د خپلې مور خبرې اوریدلې. مګر مشران ماشومان تل د ستونزو په لټه کې وو.
یوه ورځ د وزې مور خپلو ماشومانو ته وویل: ګرانو ماشومانو، زه باید ځنګل ته ولاړه شم چې خواړه راوړم.
زما د وتلو وروسته دروازه بنده وساتئ او تر هغې یې مه خلاصوئ تر څو چې تاسو زما غږ نوې اوریدلی. کله چې زه بیرته راشم،
تاسو به دا کوچنې سندره واورئ:
درې ماشومانو، کوچني ماشومانو
مور ته دروازه خلاصه کړئ
مور ستاسو ټولو لپاره راوړې دي
د شیدو په شونډو تازه واښه او په شا باندې مالګه ... - آیا تاسو پوه شوئ؟
دریو ماشومانو په ګډه ځواب ورکړ:
- هو، مورې!
- نو اجازه راکړئ چې تاسو سره خدای په اماني وکړم او زه به ژر له ښو شیانو سره بیرته راشم! د وزې مور ځنګله ته ولاړه، کوچنې ماشوم دروازه وتړله او ټولو ماشومانو په کور کې لوبې پیل کړې

په همدې حال کې بد لیوه د وزې د مور او ماشومانو د سندرو په اړه دهغوی خبرې واوریدلې، او هغه ماشومانو ته ورته سندره ویل پیل کړه، په دې هیله چې دوی د هغه لپاره دروازه پرانیزي.
درې ماشومانو، کوچني ماشومانو
مور ته دروازه خلاصه کړئ
مور ستاسو ټولو لپاره راوړې دي
د شیدو په شونډو تازه واښه او په شا باندې مالګه
کله چې تر ټولو مشر ماشوم دا سندره واوریده، منډه یې کړه ترڅو دروازه خلاصه کړي ځکه هغه فکر وکړ چې مور یې ده!
خو کوچنۍ وزې په ژړه غوني اواز وویل:
- دروازه مه خلاصوه! دا مور نه ده، مور یو ښکلی غږ لري، دا یو بد غږ دی!
لیوه د دې خبرې په اورېدو سره آهنګر ته ورغی او ترې یې وغوښتل چې دده غږ ښکلی کړي! د بیا ځل لپاره د وزې کور ته راغی او ددې سندرې لوستل یې پیل کړل:
درې ماشومانو، کوچني ماشومانو
مور ته دروازه خلاصه کړئ
مور ستاسو ټولو لپاره راوړې دي
د شیدو په شونډو تازه واښه او په شا باندې مالګه
مشر ماشوم ډیر ډاډه و چې هغه اوس مور ده.
- دا بل څوک کیدی شي؟ زه دروازه خلاصوم، هغه به ستړې شوې وي او زموږ لپاره به یې ښه خوراکي شیان راوړي وي.
- وړې وزې وویل: وروره! زه احساس کوم چې دا زموږ مور نده، خیر دی دروازه مه خلاصوه! .
خو مشر ماشوم غوږ ونه نیوه او دروازه یې خلاصه کړه! منځنی ماشوم د بړستني لاندې پټ شو او کوچنی ماشوم په تنور کې پټ شو. تر ټولو لوی ماشوم دروازه په بشپړه توګه لا نه وه خلاصه کړې چې لیوه ډیر په حریصانه توګه وخوړه. هغه د کور د پاتي برخي پلټنه پیل کړه، او په دې ډاډه وه چې نور ماشومان هم باید په کور کې وي.
- ښه، ښه ... زه فکر کوم چې ما نور غړونه اوریدلي دي. زه به مخکې له دې چې لاړ شم لږ آرام کړم.
بیا هغه په بړستني کیناست او د بړیستني لاندې یې یو څه احساس کړل. هلته هغه منځنی بیچاره ماشوم وه! وړې لیوه هغه هم وخوړ.
کله چې لیوه لاړه، کوچنی ماشوم له تنوره ووت، دروازه یې بنده کړله او خپلو ورونو ته یې په زوره زوره ژړا پیل کړه.
په همدې وخت کې د وزې مور له ځنګله کورته راغله او په سندرو یې پیل وکړ:
درې ماشومانو، کوچني ماشومانو
مور ته دروازه خلاصه کړئ
مور ستاسو ټولو لپاره راوړې دي
د شیدو په شونډو تازه واښه او په شا باندې مالګه
کوچنې وزې په بیړه دروازه خلاصه کړه او د خپلې مور په غیږ کې یې ځان وغورزاوه، په ژړا شو او خپلې مور ته یې د غمونو کیسه پیل کړه. د وزې مور ډیر زیات وژړل او خفه شوه. بیا هغې پریکړه وکړه چې بد لیوه ته سزا ورکړي. د ډول ډول خوراکونو په پخولو یې پیل وکړ، په باغ کې یې سورې جوړ کړ او په لرګیو، انګار او یوه تلک یې هغه سورې وپوښه او بیا یې له موم څخه میز او څوکۍ جوړه کړه.
کله چې هر څه چمتو شول، هغه ځنګل ته لاړه چې د لیوه په لټه کې شي ترڅو هغه ته د ماتم ګډون لپاره بلنه ورکړي. لیوه د یوې زړې بلوط ونې په سیوري کې آرام کاوه.
"تاسو ته ښه ورځ، د وزې مور! دلته ولې راغلې یې؟"
"کله چې زه په ځنګله کې وم، زما په کور کې یوه غمیزه پیښه شوه. "یو چا زما ټول ماشومان وخوړل او اوس زه راغلی یم چې تاسو ته بلنه درکړم چې د دوی په یاد کې یو څه وخورئ."
"زه خوښ یم چې تاسو  ما ته بلنه راکړه!" لیوه وویل
هغه د وزې کور ته ورغی، په داسې حال کې چې د وزې مور له ډیره درده او ډیر غم څخه ژړل، لیوه ددې غمیزې له اوریدو څخه خفګان وښود، په ټوله کې هغه هڅه کوله چې د دې پیښې لپاره خرس ملامت کړي. د وزې په کور کې، د وزې مور لیوه ته بلنه ورکړه چې د موم په څوکۍ کې کښیني او بیا یې هغه ته خواړه راوړل.
وزې لیوه ته یې وویل: ښه اشتها ولرئ!
- مننه، لیوه ډیر په نرمۍ او ادب سره ځواب ورکړ او د ټولو خوندورو خواړو په وخوړلو یې پیل وکړ. د خوړلو په وخت کې د موم څوکۍ ویلې شوه او لیوه د اور کندې ته ولوید!
- ما له دې ځایه وباسه، لیوه چیغې کړې، زه ژوندی سوځم!
- هلته همداسې وسوځیږه، لیوه، لکه څنګه چې زما زړه له درد څخه وسوځید کله چې ما ولیدل چې زما ماشومان دې خوړلي!

- مه پرېږده چي مړ شم! رحم وکړه! لیوه زاری وکړي
-آیا تا زما په ماشومانو رحم وکړ؟ د وزی مور له لیوه ځخه پوښتنه وکړه.
د لیوه د مړیني خبر ډیر ژر په ځنګل کي ټولو وزو ته ورسید او ټولي وزې د بد لیوه برخلیک څخه خوشحاله شوي.

## ۲ ضمیمه :

---

| اړخونه | مانا | لنډ یادښتونه |
|---|---|---|
| مقصد | | **لاندي ټکو ته پام وکړئ:**<br>● د مناسب چلند په اړه درسونه زده کوونکو ته زده کړئ او په ډاګه کړئ چي کوم ارزښتونه د ټولني لپاره اړین دي.<br>● هغه شیان تشریح کړئ چي خلک پرې نه پوهیږي.<br>● د ساتیرۍ لپاره کیسه ساده کړئ.<br>● یو اخلاقي ارزښت یا هغه ارزښت چي په ټولنه کي اړین دی له زده کوونکو سره یې شریک کړئ. |
| موضوعات | لویه مفکور: دا چي کیسه د څه په اړه ده | ● بېلګي: خیانت، مینه، دوستي، حسد، تشدد، عدالت<br>● دا موضوعات د رحم، میني، سخاوت او رښتینولی ښو ځانګړتیاو ته وده ورکوي او حرص، خودخواهی، ډیر غرور، او داسي نور له منځه وړي. |
| ترتیبات | دا هغه وخت او ځای دی چي کیسه په کي پیښیږي | ترتیبات معمولا اړین ندي. د وخت یا ځای دقیق اشاره پکي نوي شوي.<br>فولکلوریکي کیسي معمولاً د لاندي جملو سره پیلیږي: "وه نه وه" یا "ډېر وخت وړاندي په یوې لېرې ځمکه کي". |

| | | |
|---|---|---|
| کرکټرونه | دا هغه مخلوقات دي چې په کیسه کې ژوند کوي. | ● کرکټرونه کیدای شي ریښتیني خلک، حیوانات یا نباتات وي چې د انسانانو په څیر چلند کوي او هر یو خپل فعالیتونه د مختلف رول یا هدف سره ترسره کوي.<br>● همیشه یو اتل او یو رقیب په کیسه کې وي. اصلي کرکټر په کیسه کې اصلي وګړی دی چې د یوې شخړې د سرته رسولو یا برلاسي کولو لپاره ځانګړی هدف لري. یو مخالف یا رقیب د یو شخص، ځای، شی یا وضعیت په بڼه وړاندې کیدی شي چې د اصلي کرکټر لپاره لوی خنډ رامنځته کوي.<br>● کرکټرونه معمولا ساده او ژر باور کوونکي وي. دوی یا په بشپړه توګه ښه یا په بشپړه توګه بد، ښکلي یا بدمرغه، هوښیار یا احمق، قوي یا ضعیف، بډایه یا بې وزله د ډیری مبالغوي ځانګړتیاو سره وي.<br>اصلي کرکټرونه (اتل / اتله) ځوان، مهربان، زړه سوځونکی، زړور، بې غرضه او ځانګړي وړتیاوې یا قدرتونه لري. |